25 -2024 ښوونیز کال
د لابراتوار د خوندیتوب هوکړه لیک

**Dr. Julia Renberg**، د ساینس نظارت کوونکی

*په ساینسي اصولو باندې تسلط تر لاسه کولو لپاره خپلواکه، د پلټنې پر بنسټ مطالعه اړینه ده. له هم دې امله، زده کوونکي به داسې فعالیتونه ترسره کوي په کوم کې چې ممکن خطرناکو توکو او آلاتو کارولو ته اړتیا پیښه شي. هر زده کوونکی حق لري چې د زده کړې لپاره په یو خوندي چاپیریال کې شتون ولري. مخکې له دې چې هر ډول "عملي" فعالیت یا تجربه ترسره شي، ضمیمه شوی هوکړه لیک باید د زده کوونکي او والدینو / سرپرست دواړو لخوا لاسلیک شي او د ښوونکي سره په دوسیه کې ځای پر ځای شي. د دې هوکړه لیک یا توافق نامې یوه کاپي باید په کینوس کې د ښوونکي په کورس کې پوسټ شي.*

**په ټولګی کې د ساینس څیړنه**

1. د ساینس ټولګیو په لارښوونه کې به د څیړنې پر اساس لابراتواري تجربې او ګډ فعالیتونه **شامل وي**، پشمول د هغو چې د **PPE** کارولو ته اړتیا لري.
2. زده کوونکي باید د هر فعالیت او د ټولګي چاپیریال لپاره ځانګړي شرایط په کلکه مراعت کړي، لکه څرنګ چې ورته د خپل ښوونکي لخوا بیان شوي دي. زده کوونکي **کولی** شي چې هر وخت وغواړي په فعالیت کې د ګډون کولو څخه معزرت وکړي او د بدیل فعالیت لپاره وړاندیز وکړي.
3. ټول معیاري عملي کړنلارې او خوندیتوبونه، لکه څرنګ چې لاندې تشریح شوي دي، د زده کړې په "فیزکی ډول شتون" ماډل باندې د پلي کیدو وړ دي:

**A. د ساینس په ټولګي کې چلند**

- لابراتوار ته په ننوتلو سره، زده کوونکی دا هوکړه کوي چې د ټولګي د ښوونکي لارښوونې به تعقیبوي.
- زده کوونکي باید تر هغه آلاتو ته لاس ور نه وړي تر څو چې ورته د ښوونکي لخوا په سمه توګه لارښوونه او اجازه نه وي ورکړل شوې.
- زده کوونکي باید تل په لابراتوار کې په مسؤلانه توګه چلند وکړي. ځورول، ټوکې ټکاری، او شوخی کول خطرناک عملونه او منع دي.
- زده کوونکي باید په ښه توګه د ځای ساتلو مظاهره وړاندې کړي. د کار ځایونه باید د کتابونو او د کڅوړو څخه پاک وساتل شي. د لابراتوار څخه د وتلو دمخې، د کار ځایونه باید په ښه توګه پاک کړل شي.
- زده کوونکي باید خپلې پښې په چوکیو باندې کېږ نه دي یا د لابراتوار په میزونو او بینچونو دپاسه ناسته تر سره نه کړي.
- غیر منظور شوي تجربې کول منع دي.
- د ساینس په ټولګي کې خواړه، څښاک، د سینګار توکی او ژاولې اجازه نه لري.
- د خطرناکو توکو سره د کار کولو په وخت کې باید پوستکی (جلد) خوندی وساتل شي. هغه زده کوونکي چې لنډ سکرټ (د انجونو لنډ کمیس) یا لنډ پرتوګونه اغوندي باید د لابراتوار اپرون (مخصوصی جامې) واغوندي. د پښو خوندی ساتلو لپاره په بشپړ ډول بند بوټان اغوستل شرط دی.
- کله چې د اور ښکاره لمبو سره کار کوئ، اوږده ویښتان باید شاته وتړل شي، او آزادې جامې باید خوندي شي.
- د لابراتوار ساحه پریښودو څخه وړاندې، زده کوونکي باید خپل لاسونه په ښه توګه په صابون او اوبو پریمینځی.

**B. د لابراتوار د خوندیتوب آلات**

- زده کوونکی به په ځینې فعالیتونو کې د ښکیل کیدو پر مهال د ښوونځی لخوا ورکړل شوي خوندي عینکې اغوندي، لکه څرنګ چې د ویرجینیا آیالت قانون په 10-2 22 برخه: "هر هغه زده کوونکی چې د لابراتوار په فعالیت کې ګډون کوي کوم کې چې کاستیک (زیان رسوونکی) یا چاودیدونکي کیمیاوي توکي یا ګرم مایعات یا کلک توکی پکې شامل وي، هغوي باید هر وخت د کمپنی کیفیت لرونکی د سترګو محافظتی وسایل واغوندي." کې تعریف شوي دی.
- په لابراتوار کې د ګازو د ننوتلو وړ سطحې له لارې د زیان رسونکي دودونو د احتمال له امله د تماس لینزونو اچولو لپاره د زده کوونکو مخه نیول کیږي. هغه زده کوونکي چې د تماس لینزونه اغوندي باید د لابراتوار په فعالیتونو کې د ښکیل کیدو لپاره پرته له وینتونو څخه د عینکونو غوښتنه وکړي.

- د لابراتوار اپرون / مخصوصي جامې او دستکشي باید د ښوونکي د لارښووني سره سم واغوستل شي.
- په عمومي توګه او په بیړني حالاتو کې د کارولو لپاره هر لابراتوار د خونديتوب په ځانګړي تجهيزاتو سره مجهز دی. زده کوونکي د لاندې ذکر شويو د موقعيت، دنده او په خوندي ډول په کارولو د پوهيدو مسؤليت په غاړه لري:
  - **فيوم هوډ (د لوګی وسيله):** د ځايي هوا پاکولو (وينټيليشن) آلې لپاره وړاندې کيږي کوم چې د خطرناکو یا زهرجن لوګو، براس، ياګردونو سره د مخامخ کيدو مخنيوي لپاره ډيزاين شوی دی.
  - **اور وژونکی:** کاربن ډايي اکسايډ يا د اور وژلو وچ کيمياوي ډبې کوم چې د لابراتوار اور وژني لپاره کارول کيږي.
  - **شاور (د پورتنه په فشار سره اوبه):** په زياته کچه د کيمياوي موادو د توييدو په صورت کې د اوبو چينه يا بهنګ کوم چې د کيمياوي موادو د مينځه وړلو لپاره کارول کيږي.
  - **د سترګو مينځل:** د کيمياوي موادو توييدو په صورت کې د سترګو، پوزې يا خولې د مينځلو لپاره د اوبو دوامداره بهنګ.

## C. په بيړني حالت کې کړنلارې

- هرکله چې کومه ژوبله یا پيښه رامنځ ته شي، باید په اړه يې سمدستي ښوونکي ته خبر ورکړل شي.
- که چيرته د کيمياوي موادو څريکې په پوستکي باندې وغورځيږي، سمدلاسه يې د اوبو سره ومينځئ او ښوونکي ته خبر ورکړئ.
- که چيرته په لابراتوار کې بيړنی حالت رامينځته شي، زده کوونکي باید کار ودروي او په خاموشۍ سره دې د ښوونکي لخوا د لارښووني تر لاسه کولو ته انتظار وباسي.

### D. د سامان یا آلاتو کارول

- د غفلت له امله د سامانونو یا آلاتو د ماتيدلو مسؤليت به د زده کوونکي په غاړه وي.
- زده کوونکي باید د مات شوي يا غير فعال سامانونو په اړه سمدلاسه ښوونکي ته راپور ورکړي.
- زده کوونکي باید د کارولو څخه وړاندې ښيښه يي سامان په احتياط سره معاينه کړي. هيڅکله هم پترې شوي يا ماته شوي شيشه مه ګرموئ.
- زده کوونکي باید هيڅکله هم ماته شوي شيشه په لغړ لاسونو سنمبال نکړي. ماتې شوي ټوټې باید د جارو او کثافات دانۍ په کارولو سره جارو شي او د ماتې شوي شيشو لپاره په مشخص ټاکل شوي کانټينر يا بکس کې ځای پر ځای شي.

### E. د کيمياوي او بيولوژيکي موادو اداره کول یا سمبالول

- په لابراتوار کې ټول کيمياوي توکي باید خطرناکه وګڼل شي. هيڅ ډول کيمياوي توکی مه لمس کوئ، خوند يې مه ګورئ يا مه يې بوی کوئ پرته له دې که په مشخصه توګه درته د دې کار د تر سره کولو لپاره لارښوونه شوي اوسي.
- له دې وړاندې چې مواد ليرې کړئ، په ډير احتياط سره په کيمياوي بوتلونو باندې لګول شوئ ليبل وګورئ. د هر نه ليبل شوي بوتل په اړه ښوونکي ته خبرداری ورکړئ.
- کله چې د تيزابو اثر کموئ، ډاډ رامنځ ته کړئ چې په احتياط سره تيزاب اوبو ته اضافه کړئ (نه برعکس). دا کار د شړپهار خطر کموي.
- زده کوونکي باید د ښوونکي لخوا د ورکړل شوئ لارښووني سره سم ټول کارول شوي توکي له مينځه ويسي.
- کلک فاضله مواد (شيشي، فلزي ټوټې، ډبرې، او داسې نور) باید په دست شوي کې ځای پر ځای نه شي.
- کيمياوي کثافات باید لمنځه وړلو دمخې سنمبال او په نښه شي.
- تېره توکي، لکه جراحی چاقو، باید په خورا احتياط سره سنمبال شي. زده کوونکي باید د تيره څنډو څخه خبر وي او د بدن څخه ليرې دې يې پرې کړي.
- زده کوونکي باید هيڅ ژوندي يا ساتل شوي بيولوژيکي نمونې اداره نکړي پرته له دې که ورته په مشخصه توګه د ښوونکي لخوا لارښوونه شوې وي. زده کوونکي باید د ټولو نمونو له سنمبالولو وروسته خپل لاسونه په ښه توګه ومينځي.
- هيڅ کيمياوي يا بيولوژيکي نمونې باید په هيڅ کوم حالت کې هم د لابراتوار خونې څخه بهر وی نه وړل شي.

### F. د ګرمولو یا حرارت ښووونکې مواد

- زده کوونکي باید د ګاز بخاری کارولو په وخت کې له ډير زيات احتياط څخه کار واخلي. پام وکړئ چې ويښتان، جامې او لاسونه د اور لمبې څخه په خوندي واټن کې وي. په خوندي ډول د ګاز بخاری کارولو په اړه به خبري اترې، مشاهده او تمرين تر سره کيږي.
- زده کوونکي باید له ډير پام څخه کار واخلي کله چې د ګرمولو بريښنايي وسيله کاروي، لکه يو ګرم پليټ. که تاسو چيرته څيرل/پرې شوي يا سست تارونه وګورئ، مه يې کاروئ.

*(دوام مومي)*

- بل اور یا د ګرمولو آله باید هیڅکله هم یوازې پرې نه ښودل شي.
- زده کوونکي باید د هر ګرمیدو وړ توکی یا موادو مخ د خلکو څخه لیرې بل طرف ته واړوي.
- ګرم شوي فلز، کلالي او شیشه د اوږدې مودې لپاره ډیر ګرم پاتې کیږي. په احتیاط سره یې سنمبال کړئ.

**ښوونکی دا حق لري چې د بې پروایۍ له امله هر زده کوونکی له لابراتوار څخه بهر وباسي. د لابراتوار د خوندیتوب دا لارښوونې د یو داسې خوندي چاپیریال لپاره ډیزاین شوي دي چیرته چې یوه تجربه یا فعالیت تر سره شي. هر زده کوونکی باید په لابراتوار کې ځان خوندي او راحت احساس کړي او د لابراتوار د توکو او وسایلو په خوندي ډول اداره کولو لپاره په خپلو وړتیاوو باندې باور ولري.**

*(دوام مومي)*

**د زده کوونکی نوم:** ________________________ **د ټولګی درسی ساعت:** ________________

**د ښوونکی نوم:** ________________________ **کورس:** ________________

## د زده کوونکی موافق نامه:

*ما په دی موافقنامه کی د خوندیتوب ټول قواعد لوستلی دي او د تقیبولو سره یی موافق یم. زه پوهیږم چي زه باید د دي مقرراتو څخه اطاعت وکړم ترڅو د خپل ځان او د خپل ټولګیوالو زده کوونکو او د خپل ښوونکي د خوندیتوب ډاډ رامنځ ته کړم. زه خبر یم چي د خوندیتوب د دی موافقی څخه هر ډول سرغړونه ممکن د لابراتوار څخه د لیری کولو، د والدینو سره د خبرو اترو، او/یا اداري ته د راجع کولو پایله ولري.*

______________________________________________________________________

***د زده کوونکی لاسلیک*** ***نیټه***

## ګرانو والدینو یا سرپرستانو:

تاسو باید د خوندیتوب د لاربښوونو څخه خبر یاست چي ستاسو ماشوم به یی د هر ډول ساینسی تجربی یا فعالیت کی د ښکیل کیدو څخه وړاندی تر لاسه کړي. هیڅ کوم زده کوونکي ته به د فعالیتونو د تر سره کولو اجازه ورنه کړل شي پرته له دي چي دا تړون د زده کوونکي او والدینو/ سرپرست لخوا لاسلیک شوی اوسی او د ښوونکي سره په دوسیه کي موجود وي. ستاسو لاسلیک دا په ډاګه کوي چي تاسو د زده کوونکي د لابراتوار د خوندیتوب موافقه لوستی دی، ستاسو د زده کوونکي د خوندیتوب ډاډ رامنځ ته کولو لپاره د اخیستل شوي ګامونو څخه خبر یاست، او خپل زده کوونکي ته به لاربښوونه وکړي چي د دې قوانینو او طرزالعملونو تعقیبولو لپاره خپلی موافقی ته ثابت پاتی شي.

______________________________________________________________________

***د والدینو / سرپرست لاسلیک*** ***نیټه***

## نظرونه او/یا اړونده روغتیایی ستونزی:

______________________________________________________________________

______________________________________________________________________

______________________________________________________________________

______________________________________________________________________